مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۵/۱۶

# بې موره مه‌شئ!

مور مې دا ځل د ننګرهار په حوزوي روغتون کې بستر وه. د هغې د مخ رنګونه ورو ورو زېښېبل کېدل او له دې سره زموږ د امیدونو ستني هم کاواکه کېدلې.

په هغه ورځ بې د کټ سر ته ناست وم. دې خوني ته يوه ځوانه ميرمن را وستل شوه او پر کټ وغځېده. دا يې د لغمان له اليشنګ ولسوالي راوستې وه او له يوې ډېرې غريبې کورنۍ وه. کوچينی زوی ور سره و، پر سپين مخ يې د ژيړو ويښتانو څوکې ځنګېدلې او غلی ناست و.

شيبه وروسته ميرمني ځان راټول کړ. پښې يې له کټ لاندې وغځولې او بيا يې زما مور ته ويل: ترورې، نوره جوړه يم؛ خو بدن مې کمزوری شوی. ګوره، خپلې پښې بېرته نشم را پورته کولای.

شيبه وروسته يې بالښت ته ډډه ووهله، حرکات يې بدل شول. خولې ته يې ځګونه راغلل. زوی يې ور کتلې او لړزيده. ما ژر پر اوږه واړوه او له خوني مې بهر کړ. دکان ته مې بوت، د هر شي نوم مې اخيسته چې ورته وايي خلم؛ خو ده فقط د مور نوم اخيسته او سلګيو نيولی و.

لږ وروسته چې ورغلو؛ د مور د سينې له قفسه يې د روح سترۍ مرغه الوتی و. ماشوم کټ ته وخوت، دواړه لاسونه يې له مړې مور را تاو کړل او بيا يې داسې چيغې ووهلې؛ ما ويل ډېر ژر به د مرګ ملکه، قبض شوی روح بېرته ور وسپاري.

دا منظر مې نشو کتلی، ډک زړه ووتلم.

ځان سره مې فکر کاوه:

ماشوم دی، زړه يې نری دی، کنه خامخا يې صبر کاوه.
خو؛
يو وخت چې زما د مور روح هم د اسمان په لور وزرونه ووهل او والوت، د همدې ماشوم په څير شوم.
آن اوس هم چې کله يې يادونه هجوم راوړي؛ زړه مې نری څريکې وکړي.

يارانو!

انسان که څومره د ډېر عمر شي؛ بيا يې هم لکه ماشوم، مور ته ضرورت وي؛ ځکه د مور غېږ او د مور خوا کې چې کوم سکون دی؛ د نړۍ په هيڅ قيمتي مانۍ کې نشته.

## بې موره مه‌شئ!

--
زموږ خو د مور په تګ حافظې هم کمزورې شوې؛ لکه چې نن سبا کې د مور ورځ ده .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ